CEPI PAKISTAN COMPETITIVE EXAMS PREPARATORY INSTITUTE

FEDERAL PUBLIC SERVICE COMMISSION
COMPETITIVE EXAMINATION-2025 FOR RECRUITMENT TO
POSTS IN BS-17 UNDER THE FEDERAL GOVERNMENT

Roll Number

# PASHTO

| TIME ALLOWED: THREE HOURS | (PART-I MCQs) MAXIMUM MARKS: 20 |
|---|---|
| PART-I (MCQs) : MAXIMUM 30 MINUTES | (PART-II) MAXIMUM MARKS: 80 |

**NOTE: (i)** First attempt **PART-I (MCQs)** on separate **OMR Answer Sheet** which shall be taken back after **30 minutes.**
**(ii) Overwriting/cutting of the options/answers will not be given credit.**
**(iii)** There is **no negative** marking. All MCQs must be attempted.

## PART-I (MCQs)(COMPULSORY)

**Q.1. (i)** Select the best option/answer and fill in the appropriate Box ■ on the **OMR Answer Sheet. (20x1=20)**
**(ii)** Answers given anywhere, other than OMR Answer Sheet, shall not be considered.

**1. د پښتو حروف تهجي په تعداد کښې څومره دي؟**
(A) ٤٠ (B) ٤٢ (C) ٤٤ (D) ٤٦

**2. "پښتانهٔ د تاريخ په رڼا کښې" چا ليکلے دے؟**
(A) بهادرشاه ظفر کاکاخېل (B) قاضي عطاء الله (C) پرېشان خان خټک (D) سعدالله جان برق

**3. "روهي سندرې" نومې کتاب چا ليکلے دے؟**
(A) محمد نواز طائر (B) سلمٰى شاهين (C) نصرالله وزير (D) راج ولي شاه خټک

**4. د پوهانو په خيال د پښتو اولسي شاعرۍ ابتداء د کوم صنف نه شوې ده؟**
(A) ټپه (B) لوبه (C) نيمکۍ (D) چاربېته

**5. کوم اولسي صنف تقريباً په ختمېدو دے؟**
(A) چاربېته (B) ټپه (C) لوبه (D) بګتۍ

**6. "کونډه جينۍ" ده / دے :**
(A) ناول (B) افسانه (C) ډرامه (D) داستان

**7. "مخزن الاسلام" د چا کتاب دے؟**
(A) پير بابا (B) خوشحال خان خټک (C) اخون درويزه (D) پير روښان

**8. ډرامه د کومې ژبې لفظ دے؟**
(A) اردو (B) عربي (C) انګرېزي (D) يوناني

**9. هائېکو په څو مصرعو مشتمله وي؟**
(A) دوه (B) درې (C) څلور (D) پنځهٔ

**10. "غزوني" د چا کتاب دے؟**
(A) يونس خليل (B) قلندر مومند (C) اجمل خټک (D) حمزه بابا

**11. د خوشحال بابا د نثري کتاب څهٔ نوم دے؟**
(A) سوات نامه (B) اخلاق نامه (C) دستارنامه (D) باز نامه

**12. د ميجر يونس خليل د کتاب نوم دے:**
(A) ښاڅکي (B) سباؤون (C) غزوني (D) غُنچک

**13. "درومرجان" د کوم شاعر شعري مجموعه ده؟**
(A) کامګار خټک (B) علي خان (C) کاظم خان شېدا (D) حميد بابا

**14. د پښتو د نثر ارتقاء په څو دورونو کښې وېشلے شوې ده؟**
(A) دوه (B) درې (C) څلور (D) پنځهٔ

**15. شيخ ملي د پښتو شعروادب د کوم دور سره تعلق ساتي؟**
(A) وړومبے (B) دوېم (C) درېم (D) څلورم

**16. د داستان ترقي يافته شکل دے :**
(A) ډرامه (B) ناول (C) افسانه (D) رپورتاژ

**17. د پښتو وړومبے صاحبِ دېوان شاعر څوک ګڼلے شي؟**
(A) ارزاني خوېشکي انصاري (B) امير کروړ (C) خوشحال خان خټک (D) مرزا خان

**18. مخزنِ افغاني د چا ليکلے تاريخ دے؟**
(A) اَبوالفضل (B) سعدالله جان برق (C) بهادر شاه ظفر (D) نعمت الله هروي

**19. "ادب څهٔ دے" د چا کتاب دے؟**
(A) قلندر مومند (B) سحر يوسفزے (C) دوست محمد کامل (D) سيد رسول رسا

**20. بايزيد انصاري د تصوف څو مقامات ټاکلي دي؟**
(A) دوه (B) څلور (C) شپږ (D) اتهٔ





# PART-II

**NOTE: (i) Part-II** is to be attempted on the separate **Answer Book.**
**(ii)** Attempt **ONLY FOUR** questions from **PART-II.** Answer must be written in **respective language** except where specified in the Question paper. **ALL** questions carry **EQUAL** marks.
**(iii)** All the parts (if any) of each Question must be attempted at one place instead of at different places.
**(iv)** Write Q. No. in the Answer Book in accordance with Q. No. in the Q.Paper.
(v) No Page/Space be left blank between the answers. All the blank pages of Answer Book must

CEPI E LEARNING
27-C Block, New Muslim Town, Lahore | 0321-1114882, 0321-1114880

**سوال نمبر 2: (a)** د لاندیني ورکړي شوي انګرېزي عبارت په معیاري پښتو کښې ترجمه اوکړئ ـ **(14)**

A short story is a small tail that tells a complete story. It is shorter than a novel, usually around 1000 to 20000 words. Short stories have fewer characters and a simple plot than novels. They focus on one man idea or feeling, making them easy to read and understand. Standard short stories use simple language and clear idea to keep readers interested.

**(b)** ورکړې شوی انګریزی متلونو کښې درې متلونه پښتو ته راواړوئ. **(06) (2 each**

(i) It is no use crying over spelt milk.
(ii) Charity begins at home.
(iii) Long hair, little wit.
(iv) Love begets love.
(v) It takes two to make a quarl.

**سوال نمبر 3: (a)** د لاندیني پښتو عبارت په معیاري انګرېزیکښې ترجمه اوکړئ ـ **(14)**

په ادبي اصطلاح کښې ناول هغه لیکنې ته وائي په کومه کښې چې د داسې جذباتو او احساساتو ځرګندونه اوکړے شي چې د نورو خلقو ورسره همدري پېدا شي. دا د داستان ارتقائي شکل دے. فرق ئې صرف دومره دے چې داستان یو تخیلي څیز وي خو په ناول کښې هغه څۀ وي کوم چې په عام ژوند کښې کېږي او د انساني چاپېرچل سره جخت تړون لري. هر کله چې یو ناول لیکونکے د یوې خاصې خاورې او خاصو خلقو په حقله څۀ لیکل غواړي نو اول دې د هغه خلقو د ژوند ښۀ کتنه کوي او د هغې نه پس دې قلم اوچتوي.

**(b)** د پښتو د لاندینی متلونو نه د درېو متلونو په انګرېزی کښې ترجمه اوکړئ ـ **(06) (2 each)**

**(i)** خپل څادر سره پښې غزوه. **(ii)** پردے کټ د نیمې شپې وي.

**(iii)** د غل ملګرے غل وي. **(iv)** د سبا غمونه سبا ته پرېږده

**(v)** پېسه پېسو پسې راځي.

**سوال نمبر 4:** د پښتنو د اصل نسل د بني اسرائیلي نظریې په حقله خپل معلومات ځرګند کړئ. **(20)**

**سوال نمبر 5:** لوبه څۀ ته وائي؟ د مثالونو سره ئې وضاحت اوکړئ - **(20)**

**سوال نمبر 6:** د رحمان بابا په اخلاقي شاعری مفصل لیک اوکړئ- **(20)**

**سوال نمبر 7:** متل څۀ ته وائي؟ په خبرو اترو او شعروشاعری کښې د متل په اهمیت بحث اوکړئ - **(20)**

**سوال نمبر 8:** د غني خان په ژوند او فن لیک اوکړئ - **(20)**

****************